# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانیستي داوطلبي

**پروژه: د معلوماتي تکنالوژيې آمریت د امنیتی کمرو مدیریت لپاره دامنیتی کمرو وسایلو چمتو، نصب اوانستالیشن کول**

**داوطلبی ته د بلني شمېره: DAB/1400-1/NCB/G07**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400-1/NCB/G07** داخلي پرانیستي داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحویلي د جدول مطابق** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستي پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کیږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (abdulhayee.saeed@dab.gov.af ) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1401/01/24 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین یانغدی

۸. **د آفر د تضمین مبلغ -194118/ یو سل او څلور نوي زره او یوسل اواتلس افغانی**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1401/01/24 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په

هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵،۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي.

2- د تېر ـ و پنځو کلونو په اوږدو کې کلنۍ . ـ راکړې ورکړې حجم -9,705,900/ نه میلیونه او اوه سوه او پنځه زره او نه سوه افغانۍ.

3- داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کې د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندې ارزښ څخه ښکاروندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه -5,823,540/ پنځه میلیونه او اته سوه او درې ویشت زره او پنځه سوه او څلویښت افغانۍ یا دوه ورته پروژې لږ تر لږه -9,705,900/ نه میلیونه او اوه سوه او پنځه زره او نه سوه افغانۍ په تیرو لسو کلونو کې.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې تولیز ارزښت (:/2,426,475- دوه میلیونه او څلور سوه او شپږ ویشت زره او څلور سوه او پنځه اویا افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af